# په کاکړۍ غاړو کښې د انګرېز استعمار تذکره: د علامتونو او تشبیهاتو څېړنه

**Analysis of Symbols and similes: Depiction of British Imperilism in Folkloric Genere *Kakarai Ghari***

ابراهیم ارمان*
ډاکټر برکت شاه کاکړ♥

**Abstract:**

This paper tends to investigate the terms, symbols and overall connotation of ordinary people regarding 19th and 20th century British Empire in the specific cultural zone of Zhob valley. The sense of otherness and alienation amongst the rivals (imperial army and tribal Pashtuns) has been depicted in the colonial annals broadly written by British learning brigades, compilers, anthropologists and political agents. The narrative of native Pashtuns regarding their encounter with *Firangies* or Britain's and their system, has been missing. As native Pashtuns usually record their resistance and celebrations in folkloric poetic genres, and these genres are mainly created by the illiterate poets (mainly women) who seldom find ways to be recorded in written text. Field work has been carried out to validate and explore some of the important missing links in this connection. The paper concludes that Pashtun natives have equally desisted communication with British Empire and have shown peculiar sense of otherness to their systems and symbols. The genre *Kakari Ghari* show that a strong sense of otherness and rivalry has been persisted in this particular territory and all the couplets (*Kakarai Ghari*) which caters to description of Britians has a martial and conflict context.

**Key words:** Pashtunwali, British Empire, Similes and Symbols,Cultural alienation, folkloric genres.

اولسي ادب یوه داسي هنداره ده چي یو قام خپله پارونې څهره پکښې په اسانه لیدلی شي. که چیري کلتوري عمل ژوندی وي، او د اولس ټولنیزه او اجتماعي حافظه سالمه وي، نو د اولسي ادب شعري او نثري اصناف د تېري زمانې د ژوند بشپړۀ انځور جوړولی شي.

پښتانه چونکه لاتر دې دمه اولسي او شفاهي ټولنه لري، د فوکلوري ادب او شفاهي روایت لویه پانګه اوس لاهم د خلګو او اولسونو په زهنونو کښې پرته ده، ډېره برخه یې په لر او بر افغان وطن کښې ځیني پیاوړو لیکوالانو (فوکلورستهانو) په کتابونو کښې زېرمه کړې هم ده، تر دې د مخه انګریز

* Ex-M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Balochsitan, Quetta
♥ Assistant Professor, Department of Pashto, University of Balochsitan, Quetta

او نورو یورپي ختیځ پوهانو هم په دې ډګر کښې د پام وړ کارونه کړي دي، خو بیا هم د اولسي ادب ډېره برخه اوس لاهم نه ده خوندي شوې او ډېري داسي خبري دي چي له سره پلټل غواړي.

په دې تحقیقي مقاله کښې موږ په دې توانېدلي یو چي په اولسي ادب خصوصا په کاکړۍ غاړو کښې د انګریز ي استعمار په حقله د کارول شویو علامتونو یا نومونه یوه تنقیدي څېړنه وکړو. چونکه د کاکړۍ غاړو مرکز د بوري (لورالا ئي)، ږوب (اپوزئي) او د ننی ورځي د قلعه سیف الله درې ګوډېز دی او د دې چار چاپېره ټولي پښتني سیمي هم د دغو صنف په اثر کښې پاتي شوي دي، ځکه نو د هم دې سیمو د ځیني غاړو په مرسته به د دې مقالې بنیادي ادعا ورشل کیږي.

غاړه د پښتو شفاهي ادب یو صنف دی چي تخلیق یې د سوهېلي پښتونخوا اولس په خاصه توګه په بوری، کلاسیف الله ، ږوب، دوکۍ، لوڼی، موسی خېل حتی کهیتراڼ او د کوهلومریان او زرکوانوپوري کیږي. د کوټي ، پښین او د قلعه عبدالله په سیمو کښې هم د دې صنف اثر دوام درلودلی دی. په لنډه توګه به دا و وایو چي کوم حیثیت په شمالي او منځنی پښتونخوا کښې و ټپې ته حاصل دی هم هغهٔ حیثیت په سهیلي پښتونخوا کښې د کاکړۍ غاړو دی.

**تاریخي واقعات او د اولسي صنفونو حافظه**:

دا خبره په پام کي د نیولو ده چي شفاهي روایت خپل ځانګړی نظام وضع کوي، او په دې نظام کښې د ژوند د روزمره څخه بیا د قومونو او قبیلو د تاریخ او نسب، ادب،آرټ، میوزک،اولسي پوهي، او حکمت پوري د یوه نسل څخه و بل ته د انتقالولو انتظام کوي. خو دا خبره بیا هم پر خپل ځای د منلو ده چي د خولې خبري باد (هوا) وړي او لیکل شوی متن تر قرنیو پوري ژوند مومي. ځکه نو یو شفاهي روایت نېغ په نېغه د ژبي او متن روایت هغهٔ ډول خوندي نه شي ساتلی لکه لیکل شوی مواد چي یې په خپل ځان کښې ساتي.

چونکه پښتني ټولنه په عمومي توګه نالوستې او بې سیواده پاتي شوې ده، په ډیرو کورونو کښې اوس هم د کتاب ښوولو ځای یا د کتابتون او لوست ځای له سره شتون نه لري، نو ځکه زیاتره ګزاره یې اوس هم پر دغه شفاهي روایت ده.

په شفاهي روایت کښې د ادب، هنر، تاریخ ، اولسي پوهه او نورو علومو، فنونو او معلوماتو د خپرونه، زېرمه او پر مختګ په یوه ټولنیز چاپېریال کښې کیږي. ځکه د یوه نسل څخه چي کله بل نسل ته دغه ټوله پانګه انتقالیږې نو بشپړهٔ سوچه قبائلي او ټولنیز نظام ته اړتیا لري، چي په اوسني وخت کښې د نوي ژوند دود او ټیکنالوژي په سوب امکان نه لري.

د فوکلور له اړخه د تاریخ د بیا راپلټلو هڅي وختي هم شوي دي. په ټپه کښې د خالو (د محمود غزوي یو قومندان) د لښکرو ذکر یا بیا د هوما او سوما د بوټو ذکر له دې څخه سېوا دی چي قابو زر او دوه زره کاله پخوانی پیښي او تهذیب ښکاروي، خو زما په نزد دا اندونه بیاهم نوري

پلټني ته اړتيا لري، دا چي فوکلوري روايت په خپله حافظه کښې تر څه وخته پوري سالم پاتيږي، مهاجرتونو، لېږديدني او د حالاتو جبر د اولس پر اجتماعي حافظې څه قانې کوي دا سوالونه پرخپل ځای د سنجولو دي.

په هر حال زموږ سره ځيني داسي حوالې اوس هم شته چي د تېر وخت د يوې مهمه واقعې ذکر يې پکښې راوړل شوی وي. د بېلګي په توګه د اتڼ يوه ناره چي تر موږه رارسېدلې ده پکښې د نادرشاه افشار د وخت د يو پښتون اتل ذکر داسي پکښې راغلی دی.

"که سر پاړي پښتنو په مخ سرپاړي
دابه هم دخدای رضا وي
د سيدال سترګي نادر ايرانی کاږي"- (1)

په پورتنۍ غاړه کښې د نادرشاه افشار (1688-1747) له لاسه دهوتکو د امپراتوری د يو ستر جنرال سيدال خان ناصر د ړندېدلو واقعه مخي ته راغلې ده. اروانښاد بېنوا په خپل اثر کښې د دې واقعې ذکر څه دا ډول کړی دی.

"دپياوړي زړور جنرال سيدال ... په اخر کې د اعليحضرت شاه حسين د زوی محمد نامي سره د کلات د کلا د باندي په جګړه کې د نادر د لښکرو په لاس ورغی او نادر، چې خپل دا زړور رقيب لاس ته راووست ، دستي يې امر وکړ ، چې ددې زمري پښتنون سپه سالار سترګې ړندې کړي او دده د سقوط سره د هوتکو شهنشاهي سقوط وکړ".(2)

د دې څخه يوه خبره داهم روښانه کيږي چي د فوکلوري شاعرۍ له لوري هم تر ډېره وخته د يوه اولس د تاريخ نخښې نښانې ژوندۍ پاتي کېدلی شي.

**په غاړو کي د ملي دوښمن (انګريزي سامراج ) ذکر**:

هسي خو د پښتنو په اجتماعي لاشعور کښې د خېر او شر ځانګړي نخښې نښانې شتون لري، د ملي دښمن لپاره هم ځيني ټکي کارول کيږي چي په اوس مهاله ټولنه کښې لا هم ده کرکي او نفرت علامتونه ګڼل کيږي/ د بېلګي په توګه مغل، يا مغلواله د پښتون او پښتونولۍ ضد نسل او نظام دی. هم دغۀ ډول د سهيلي پښتونخوا پښتانه "غجر" هم د بې ډوله يا دوښمن په توګه کاروي. دغۀ ټکی غجر په اصل کښې د قاچار بدله شوې بڼه ده. خو د انګريز په ضد د پښتنو اجتماعي لاشعور دا حقيقت سپړلی دی چي فرنګی کورټ يو دښمن کيدی شي.

د ځانګړي مځکني موقعيت په سوب د پښتنو تاريخ د خونړيو جنګونو ډک پروت دی. پښتنو د سر په بدله خپله خاوره ساتلې ده، او د تاريخ په هر پړاو کښې يې دغه ښېرازي خاوره په خپل او د بل په وينه خړوبه کړې ده.

هغه ځکه چي خاوره مور ده وطن ليلا ده! دا دواړي ريښتې له جذباتو سره تړون لري، له وطنه او خاوري سره د انسان تړون په عقلي بنيادونو نهٔ وي چي سړی په عقلي بنيادو دا فيصله وکړي چي بس دا وطن زما دی او فلانی زمانهٔ دی. له وطنه سره تړون په جذباتي بنيادو دی، په دې کي عقل نهٔ ځايږي. نو په دې حواله پښتانه تر اوسه دا خپله خاوره او وطن په هم هغه مورنۍ جذبه ساتلی دی. چي څرنګه يې وطن ساتلی دی دغه رنګه د قام زياتره شاعري ښځي دي هغوی هم په غاړو کي د خپل ملي اتل ستائنه کړې ده، د ملي خائين او دوښمن سخته محاکمه او احتساب يې کړی دی. په زياتره پښتو فوکلور کښي د دوښمن نوم په ډاګه اخستل شوی وي، ځيني وخت د طنز په نشترو هم د خپل دوښمن شناخت ردوي.

**فرنګي**:

"دغهٔ توری پښتو ښائي د فارسي ژبي راغلی وي، ولي چي په فارسي کښې فرنګ د يورپ د سپين پوستو اولسونو لپاره کارول کيږي".(3)

دغه ټکی په هندوستان کښې ډېر ژر د کرکي او تعصب يوه نخښهٔ جوړه شوه، ولي چي هند د ايسټ انډيا کمپنۍ تر استعماري جغ د پښتني سيمو څخه قابو سل کاله پخوا راغلی ؤ، خو د هند د آزادۍ په غورځنګ کښې د فرنګ په ضد مبارزې يو علامتي بڼه خپله کړهٔ چي له کبله يې د انګريز يا فرنګ په ضد منظم کار روان شو.

په عام ټکو کښې د دې سيمي پښتنو انګريزان د فرنګ يا فرنګي/پرنګي په نامه ياد کړي دي.

په لاندي غاړو کښې د دې ټکي څرک څه داسي څرګند شوی دی.

"د بوري پر چوکو ښوري سپين حاجي پرنګيان ګوري
د بنګل په مرګ خبر سو ړوب له بيا فرنګيان تر سو
چي بنګل سردار يې مړ کی ړوب يې ببرته د کافر کی
باندي ګرځي انګرېزان چي مړ باجړ دی که جانان
بنګل مړ ظريف ټيپي دی پر ړوب ړغ د فرنګي دی" .(4)

**ګورکيان / ګورکا**:

د سهېلي پښتونخوا پښتنو د استبدادي فرنګي ځواک د عسکرو لپاره ټکی "ګورکا" يا "ګورکيان" کارولی دی. دلته دا خبره په پام کي نيول ده چي ګوره او ګورکا دوه بيل ټکي دي، ګوره په هند کښې و سپين پوستو يورپيانو خصوصا انګرېزانو ته وئيل کيږي، او انګريزانو ته وئيل کيده، په کوټهٔ او بوري کښې هم د انګريز د وخت اديرو (قبرستان) ته د ګوره ګانو اديره وئيل کيږي. خو د ګورکا ټکی هلته کارول شوی دی چيري چي جنګ دی يا په بله معنا پښتنو ورسره ډغره وهلې ده.

"د عسکري تاريخ د پلټني څخه يوه خبره دا جوتيږي چي د برتانوي هند ايسټ انډيا کمپنۍ چي کله پر کټمنډو (نيپال) حمله وکړۀ نو هغۀ وخت پر دې سيمه د ګورکا سلطنت باچهي دوام درلود، د ډېرو سختو ډغرو وروسته په کال 1816کښې يوه لوظنامه وشوه چي د "سګولي" لوظنامه بلل کيږي. انګريز افيسر (Sir David Ochterlony) ته د ګورکا عسکرو دجنګ صلاحيت په نظر ورغلی ۀ، ځکه په هم دي کال دغۀ رجمنټ په وجود کښې راغلی، د نولسمي صدۍ د دويمي لسيزي څخه بيا د هند تر آزادۍ پوري دغه رجمنټ په هر جنګي ميدان کښې جنګېدلی دی، او د برتانيي د عسکري ريکارډ له رويه د برتانوي هند تر ټولو ستر عسکري ميډالونه "ويکټوريه کراس" ګورکيانو ګټلي وي". (5)

ګورکيان د افغانستان په جنګونو کښې په دوامداره توګه برخمن پاتي شوي دي. ګورکيان په ټوله هند کښې په دې صفت مشهوره وو چي کله به په يوه خوا ور روان سول بيا به يا برئ وموند يا به يې ککره بائلوله. هغوی جنګي روبوټان وو، په ويره نه پوهېدل، چي مړه سوي نه ول تر هغو به جنګېدل، که به دوی په قطار کي را روان ول چي اول يو به دي مړ کړ بل به نۀ ګرځېدی پر ور روان به وو، تر هغو به پر ور روان وو چي ختم سوي به نۀ ول.

خو پښتانه چي د جنګ جذبه او هنر يې زده ۀ، خو توره به يې پسه وه، او توبل به مات ۀ، بيا هم له داسي رنګه فوځيانو سره مخامخ جنګېدلي او داسي مقابله به يې ورسره کړې ده چي د هغۀ وخت په تاريخ کښې يې ځاری نشته. د پښتانه وطن په هره شېله کي پر هره ډېره (تيګه)، هر سړک او پر هر دېوال د وژل شويو ګورکيانو ځلي جوړ دي.

زموږ د سهيلي پښتونخوا اولسي ادب چي هر ځای د فرنګي استبدادي فوځ سره ډغره وهلې ده، د ګورکيانو ذکر يې راوړی دی. د بېلګي په توګه د بوري (لورالائي) دوو پښتنو غازيانو حاجي او فتح خان په کال (1935)کښې يوانګريز افيسر په سم بازار کښې وژلی دی. په غاړۀ کښې دا وقعه داسي خوندي شوې ده.

"يو حاجي بل فتح خان پر سم سړک ولي ګورکيان"(6)

هم دغۀ ډول سردار شيرعلي عبدالله زيئ يو بل پښتون مبارز دی چي د وطن د آزادۍ پر ليلی يې سر ايښی دی. هغۀ د غورلم نومي ځای اوسېدونکی ۀ کوم چي په غاړه کي ذکر سوی دی.هغۀ له ګورکيانو سره ډغره وهلې ده، ښځي ډېر ګورکيان يې وژلي وو.

اوس د خوښ دی شيرعلي چې غورلم ډک کی په ګورکي(7)

له دې پرته موږ نوري ډېري داسي غاړي لرو چي پکښې د ګورکيانو د پلټون ذکر پکښې شوی دی.

پر خدائداد مري تنګسه ده پلټن کړه د ګورکه ده(8)

اوس د خوښۍ دی وزیر خان د خلې پر میان ولي ګورکیان

په ماتو غاړو کښې هم موږ ته ځای په ځای د ګورکیانو یا ګورکه ذکر مخې ته راشي:

کټاپړانګ پالې زمری پاس پر دېوال ولي ګورک

**میمه او فرنګۍ:**

میمه چي په هندوستان کښې ورته له درنښته میم صاحب وئیل کېده، هم د پښتنو په اجتماعي لاشعور کښې تر ډېره غزونې کړي دي. لکه څه ډول چي د فرنګي لپاره سور ټکی هم کارول شوی دی هم دغه ډول د مېمه لپاره ټکی "سره" هم زموږ مخته راغلی دی.

په لاندینیو غاړو کښې د شېرجان جوګیزئي د غزا او بیا د هغۀ نیول کېدو په حقله میمه او فرنګۍ مخاطب کړې ده.

میمي ټول که خپل هلکوان دویم کارتوس ورکی شیرجان

فرنګۍ شیرجانه را پرېږده غم پر ګرد سنزرخیل کښېږده

فرنګۍ شېر جان رایله که روب تر پایه جرمانه که

هم دغۀ ډول یوه بله تاریخي واقعه چي د غاړو په جامه کښې یې ځان تر موږ پوري را رسولی دی د ګل باران جوګیزئي د مبارزې قیصه ده. ګل باران جوګیزي چي د کلاسیف الله ماڼګي کلي اوسېدونکی ؤ ، د هرنایي د تورخان غره په ګرېڼګونو کښې یې پر یوه انګرېز حمله وکړه انګریز مړ سو او میمه ژوندۍ پاته سوې ده.

مړ یې کی په لوی چکر کي میمه زاړي په موټر کي (9)

که چیري موږ د غاړو د متن څېړنه وکړو او په هغۀ کښې د انګریز استعمار په حقله اولسي غبرګون ته غوږ سو نو دا خبره تر ډېره حده جوتیږي چي پښتنو د انګریز استعمار د هر ظلم سهلو باجود بیا هم د پښتونولۍ د سترو او درنو اخلاقي اقدارو او د ننګ د کار څخه غاړه نه ده غړولې. د بېلګي په توګه په پورتنی غاړۀ کي ګل باران انګریز افیسر وژني، خو د هغۀ سره ناسته میمه یا زنانه ته هیڅ زیان نه رسوي.

**کمپنۍ یا کوپنۍ:**

د لومړې انګریز افغان په ترخ کښې د برتانوي هند، ایسټ انډیاکمپنۍ دلته پښبنه را وکړۀ او دلته یې خپلې استحصالي منګولې ښخې کړې نو دلته د اولس لخوا هم زښت زیات غبرګون منځ ته راغلی دی. د ایسټ انډیا کمپنۍ نوم هم په ځینو غاړو کښې منځ ته راغلی دی. د آزادۍ پر لیلیٰ مئین یومېړۀ واصل کدیزئي چي د بوري (لورالائي) اوسیدونکی ؤ د انګریز چاراواکو لخوا ژوندی یو وړل شو، ډېري مودې پس چي کله هغۀ په زندان کښې پور پرې کړ بیایې خپلو عزیزانو ته واپس کړ. یوه غاړۀ په دې حقله څه داسي تر موږ پوري را رسېدلې ده.

کوپنۍ واصل ده څه کړ کور یې زنګ تاویزو وکړ

هم دغه ډولیو بل مبارز دینک هم د کوپنۍ لخوا وژل شوی او بې درکه شوی دی چي په لاندینی غاړه کښې یې ذکر شوی دی.

کوپنۍ دینک د څه کړ کور یې زنګ توپنچې وکړ

د پام وړ خبره دا هم ده چي پر بوري هغه وخت انګریزان راغلي دي چي د هند پر کوشنی وچه د کمپنۍ نېغ په نېغه باچهي له منځه تللې وه، او دا مهال د هندوستان او نورو مستعمرو سیمو واکمن د برتانیې رانۍ یا ملکه وه. خو د هغه وخت پښتانه د کمپنۍ او د رانۍ په مینځ کښې چنداني فرق نشو کولی، ولي چي فوځي خو بیا هم هغه ؤ او هم هغه اوږد توپک او توپي ورسره وې.

د ایسټ انډیا کمپنۍ چي اول ځل هندوستان له په میلادي کال 1604 کښې د تجارت په پلمه راغلې وه ورو ورو یې د باچهي نیولو تدبیرونو پیل کړل او په یوه صدۍ کښې دننه د هند پر سیاست نېغ په نېغه اغیزمن شوې وه.

په لومړې افغان انګریز جنګ کښې د هند واک و اختیار د کمپنۍ سره ؤ، خو په میلادي کال 1841کښې په افغانستان کښې د سختي ماتي سره مخامخ کېدل او بیا د هغه په ترڅ کښې په کال 1857کښې په هند کښې د آزادۍ جنګ پیل کېدل ملکه ویکټوریه و دې ته اړ ایستله چي د واک و اختیار واګي نېغ په نېغه په خپل لاس کښې واخلي.

یوه بله ماته غاړه هم موږ ته دا کمپنۍ د ظلم او ناروا چلن په غبرګون کښې څه داسي وئیل شوې ده.

تور ندر په جېل زني دی کوپنۍ صدو را خلاص که (10)

اوس په دې غاړه کي ندر او صدو کمپنۍ (کوپنۍ)ګرفتاره کړي دي نو د دوی ځناني داسي وایي چي ندر په جېل عادت (زني) دی خو صدو نه دی په عادت کمپنۍ ته وایي را خلاص یې کړه. د دې دا مانا ده چي صدو یې برناحقه نیولی دی ځکه دوی دا خواست کوي چي صدو را خلاص کړه ندر دي په جېل کي وي.

**رساله/رسالې**:

رساله د ځایي فوځي یا عسکري پلټون لپاره کارول کیږي، خصوصاً کومي سیمي چي مستعمره شوي دي، او هلته ځایي خلګ ایل شوي دي هغوی ته په عامه توګه ساله وائي. دغه ټکی نن هم د پخوا په شان د پاکستان د عسکري ډسپلن کښې اوس هم شتون لري. دغه فوځي ځواک هم د مړو په غاړو کښې د رسالې ټکی هم ځای په ځای مخي ته راځي.

یابه ځان خوار کم پستې یا به کوټ ورم د رسالې

**سور یا سره**:
لکه څه ډول چي په هند کښې په عمومي توګه انګریزانو یا یورپیانو ته ګوره صاب وئیل کېده خو دلته په پښتني سیمو کښې کله هم سپین نه دي ورته وئیل شوي. یو علت دا دی چي سپین د محبوب، مئین یا سروبن لپاره کارول کیږي. چونکه انګرېزان په ځرمن سره وو ځکه په غاړو کښې یې موږ ته هم دغه شناخت په مخي راغلی دی.

باز یې مړ کړ سره په زور کي — کلا خان به ولات وور کي
په تحصیل کي ټکهار دی — د سرو ښکار کوي شیرجان دی

**ملېشه** :
د فارورډ پالیسۍ په ترځ کښې چي کله انګریزانو د پښتنو سیمي مستعمره کول پیل کړل نو په دي و توانېدل چي دلته د خپلو منګولو د ښخولو په رمز پوه شي، دلته هغوی نېغ په نېغه خپل نظام نه شو پرانستلی، ځکه یې د پښتنو په قبائلي رغښت کښې خپل نیالان لګول پیل کړل، اولسي جرګه په سرکاري جرګه بدله شوه،داسي قبائلي مشران و ټاکل شول چي د هغو له خولې به نه مړۀ وو نه ژوندي، بیا د دې خانانو، سردارانو د مرستي لپاره ملیشه او لیویز هم منځ ته راغلل او هم دغۀ ځواکونو به پر اولس د انګریزانو واکمني ته عملي جامه ور اغوستله.
په ملیشه کښې به عموما د علاقې خلګ بهرتي کېدل او د خپلي علاقې ژغورنه (سکیورټي) به د دوی په غاړه وه. دوی ته به یې د میاشتي خپل معاش ورکول کېده .
قایم خان جلالزي چي د ملېشې رسالدار وو روغه پړکی ملېشه یې واړول افغانستان له بیا د انګرېز خلاف جنګېدل ، ګلباران خان جوګزیي چي رسالدار وو هم یو پړکی ملېشه افغانستان له واړول او بیا د انګرېز خلاف جنګېدل"
نو داسي نوري هم ډېري واقعې سته چي دلته بیانېدی سي خو دا به بیا ډېره اوږده سي مقاله. اوس به یو څو غاړي د ملېشې په هکله دلته را نقل کړو

پر مخ نۀ ځي ملېشې — ژړک نیولګي دي مورچې
ځله تښتي ملېشې — د بم ګولۍ ولي پالې
ځن پر شا سوې ملېشې — د جانان خوی کوي پالې

**ډېوان**:
لکه څنګه چي لوړ و وئیل شو چي فارورډ پالیسي معنا دا چي د اولسي استازو په مرسته اولس تابع کول، خصوصا په مستعمرو پښتني سیمو کښې د پښتنو په زور پښتانه ایل کول ؤ. ځکه نو دلته لیویز او ملیشیاځواکونه په وجود کښې راغلل. په دې فورس کښې به زیاتره ځایي خلګ بهرتي کېدل .اول ځل د پښتنو خپل خلګ نوابان، ملکان، سرداران، خان بهادران او نور تکړه خلګ په پیسو

واخستل یا به یې د تربرۀ په خلاف د دۀ کومک وکړ د ایې لاد پیسویا د قانون چي هغه وخت کومه وسیله، ذریعه وه هغه به یې ورته پیش کړه. خو دای به یې د قام د ګټو او د غازیانو په خلاف جنګاوه. د فارورډ پالیسي بنسټ ګر سنډېمن ګڼل کیږي، د هغۀ نژدې ملګری او شاګرد ائزک بروس چي د فارورډ پالیسۍ په نامه کوم کتاب لیکلی دی هغۀ دا ټوله کیسه په تفصیل کړې ده چي دلته په پښتنو کښې انګریزي استعمار څه ډول خپل نهالان ولګول او د پښتنو لرغوني کلتور او روایت چي په کومه طریقه د اولس استازیتوب کاوه، هغه یې له منځه یو وړ، او دغه ټول کار یې د لیویز فورس یا ملیشې په مرسته وکړ.

خو د پښتونولۍ احتسابي عمل هم خپله اغېزه لري، پېغور یو داسي غشی دی چي یو وار له لیندۍ ووځي نو نه خو خطا ځي او نه یې بیا ټپ یې په قرنیو جوړیږي. بله خبره لا داچي پېغور په وراثت کښې له یوه نسله بل نسل ته پاتي کیږي. کوم خلګ چي د پښتنو یا خپل اولس په ضد د پردیو ملګري کوي هغه پښتنو په ډېرو سپکو نومونو یاد کړي دي. د ړوب او قلعه سیف الله په سیمو کښې ټکی "ډېدان" ځای په ځای راغلی دی چي معنا یې د انګریز لاس پوستي دي، یا پخپله د انګریز نظام دی. د بېلګې په توګه د قلعه سیف الله محمد اکبر خان جوګیزئي د انګریز د پشیکشونو څخه دا ویره محسوس کړې وه چي داسي نه وي چي په جال کښې یې راشي او د پښتونولۍ په دود به یې اولسي احتساب وشي، هغۀ خپلي لور "پاتو" په یوه آزاده غاړه کښې داسي مخاطبه کړې ده.

خپل کبر به مو خوار کړي                    پاتو ګډ به په ډېدان سو (11)

د دې غاړې د متن څېړني څخه یوه خبره دا هم جوتیږي چي یوائې پېغور د هغۀ په لار کښې نۀ ولاړ، بلکه هغۀ د انګریز انو د طرز عمل، نظام او د هغوی د استبدادي کلتور څخه ډډۀ د هغۀ په تربیت کښې شامله وه، څومري چي پښتانه انګریزانو ته پردي او نابلده ښکارېدل هغومري پښتنو ته انګریزان بېګانه اېسېدل.

د ډېدان اصطلاح په لاندینۍ یوه غاړۀ کښې هم راغلې ده

دنازک د سپرکۍ خوپ دی                    ډېدان کار کولی نۀ سي (12)

بنګل خان جوګیزئي ته به پلار دوست محمد خان له ډېره نازه نازک وایه، ځکه دغه ټکی یوائې په کور کښې پاته نشو او په اولسي توګه عام شو. په غاړه کښې د سپرکۍ توری راغلی دی چي د بنګل خان جوګیزئي د اسپي نوم ؤ.

چي کله به د نازک د سپرکۍ خوپ سو نو به انګریزان او د هغوی کارکوونکو " ډېدان" له کاره لاس په سر شول او د کار له ځایه به ورک شول.

**پایله**:د دې لیکنې په ترڅ کښې موږ دې حقیقت ته رسو چې د یادو شوو پښتنې سیمو اولس په زهن کښې د انګریز ي استعمار څه ډول عکس جوړ شوی ؤ. د یاد شویو غاړو په رڼا کښې موږ په دې سود رسیږو چې د پښتنې اولس په زهن کښې د انګریزي استعمار د استازو، فوځ، او نظام په حقله د بېګانګیت او پردي توب یو نفسیاتي علت موجود ؤ. کومې غاړې چې موږ ته په لاس راغلي دي، په هغو کښې زښت عسکري تعامل موږ ته په نظر راځي یا د هغوی د کلتور او ژوند ژواک څخه د کرکې احساسات موږ وینو.

له دې څخه هم دا حقیقت منځ ته راځي چې په فوکلوري صنفونو کښې د اولس زښته روغه اجتماعي حافظه غزونې کوي، که چیري موږ و غواړو چې د نولسمې یا شلمې صدۍ یا تر دې د پخوانیو پښتنې ټولنیو په فکري او جمالیاتي اقدارو ځان پوهه کول و غواړو نو په دې لړ کښې زموږ فوکلوري اصناف زموږ ډېره ښه مرسته کولی شي. د کاکړۍ غاړو یوه مهمه خوبي دا ده چې په لرغوني پیر کښې دغۀ غاړې د څه تصنوع یا د څه شعري ضرورت لپاره نه دي تخلیق شوي، د هرې غاړې تر شا یوه واقعه او کردار یا کردارونه حتما وي. ځکه پښتنو د ټولنیز ، کلتور او سیاسي تاریخ د بیا را پلټلو په لړ کښې دغۀ صنف زموږ ډېره مرسته کولی شي.

## حوالې


(1) ژړک ،ډاکټر محمد صادق،(۲۰۱۲)، کاکړۍ غاړي، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، مخ ۶۴

(2) عبدالروف ،بېنوا ،(۲۰۰۵ )،میرویس نیکه. ، دانش خپرندویه ټولنه ، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې ، پېښور ، مخ ۱۵۹

(3) http://urdulughat.info/words/13169-Last accessed Dec 22,2018

(4) ژړک، ډاکټر محمد صادق، (۲۰۱۲)، کاکړۍ غاړي،پښتو ادبي غورځنګ کوټه ، مخ ۶۹

(5) "Victoria Cross (August 2009.),The Premier Award for Gallantry"Ministry of Defense, last accessed, Nov, 12th 2018 (UK). Retrieved 1

(6) عارف، سید خیر محمد. ( ۱۵م دمئي ۲۰۰۰) زمونږ غازیان او شهیدان. پښتو ادبي ملګري بوری لورالائی. مخ ۲۳۴

(7) هم دغه اثر ،مخ ۲۲۹

(8) ژړک، ډاکټر محمد صادق، (۲۰۱۲)،کاکړۍ غاړي، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، مخ ۶۸

(9) ژړک ،ډاکټر محمد صادق، (۲۰۱۲)،کاکړۍ غاړي،پښتو ادبي غورځنګ کوټه، مخ ۶۹

(10) کاکړ، سیال. (۲۰۰۶)،پخوانۍ غاړي، پښتو ادبي دنیا کوټه ، مخ ۲۳۸

(11) دغهٔ غاړي د دې لیکنې لپاره د قلعه سیف الله د نامتو فوکلورسټ او پوهاند نصیرالدین جلال زئي سره د مرکې په ترځ کښې هغهٔ شریکې کړې.

(12) هم دغهٔ